مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: رڼاګل اریوبزی ۲۰۲۲/۰۸/۰۲

# جــانــو د جادو اســتاد

## د ماشومانو له پاره لنډه کیسه

جانو دیوه بزګر زوی و، په یوه کوچني کلي کې اوسیده اود کلي ټولو اوسیدونکو به « لوی ځان ښیونکئ» باله. یوه ورځ یې پریکړه وکړه چې یو ځانګړی شی زده کړي، غوښتل یې چې د جادو استاد شي. یوه زاړه او هوښیار سړي ته ورغي او هیله یې ترې وکړه چې جادو ورزده کړي. بوډا ورغبرګه کړه چې:

« که غواړې جادوګري زده کړي، نولومړی باید درې ځله درې کاله دجادو ګری زده کوونکی شي، بیا نه کاله جادو ګر واوسي، ترهغه وروسته بیا اجازه و لرې چې د جادو داستادۍ په ازموینه کې ګډون وکړې. جانو ورسره ومنله. ده دا هنر زده کاوه چې سرې ښنګه دچا له غوږو، پزې اوجیبونو څخه د طلا سیکې راباسلی شي او په څه ډول کوچنیان خوشالولی او په خندا راوستلی شي. درې کاله وروسته په دې عقیده شو چې اوس یې هر څه زده کړل. داستاد نه یې مننه وکړه او ورڅخه لاړ. په ټول هیواد کې وګرځیده، دهر کلي په درمند یې خپل هنر وښود او که چا به ترې پوښتنه وکړه چې دی څوک دی، نو ده به په ځواب کې ورته ویل چې:

« زه جانو دجادو استاد، دجادو لوی استاد یم، خو دلته ستاسي په وړاندې یوازې خپل واړه هنرونه ښیم، لوی هنرونه دځانګړو ورځو له پاره ساتم.» ډیر زر د جادوګری استاد جانو اوازه په ټول هیواد کې خپره شوه. بادشا هم په خبرشو او هغه یې ځانته راوباله. کله چې جانو دبادشا په حضور کې ودرید، نوله ځان سره یې فکر وکړ چې داهلک خو دجادو داستاد په څیر نه ښکارې، تر ډیره دیوه ځان ښیونکي په شان مالومیږي. پادشا مخ ور واړوه او ورته ویې ویل چې:« جانو د جادوګری استاده! ځلور اونی پخوامې تر ټولو ښکلې ګوته را څخه غلا شوې ده. ستا په شان جادو ګر ته خو دهغې را پیدا کول چندا ستونځمن کار نه دی.

د دې له پاره چې څوک مرسته درسره ونه کړي، د تکاوۍ په ژوره سوړه کې دې ننباسم او درې ورځې وخت درکوم، که دا ګوته دې راته پیدا کړه نو د دربار جادوګر به دې وټاکم او که نه نو سردې غوځوم.» جانو دتکاوۍ په سوړی کې فکر کاوه چې دژوند یې یوازې درې ورځې پاتې دي، ځکه داسخت چل یې په دومره لنډ وخت کې نه شو زده کولی.د بادشاه ګوته دهغه درې نوکرانو غلاکړې وه. مابښام یې دا یوه نوکر دجادو استاد جانو ته دماښام ډوډۍ راوړه. جانو له ځان سره په دې فکرکې و چې دژوند د وروستیو درو ماښامونونه یې یوتیر شو. سوړ اوسیلی یې وایست او ویې ویل چې.« که په رښتیا جادوګر وم ، نو دا لومړی تیر شو.» نوکر چې دجانو خبرې واوریدې نوداسي یوه شو چې ګوندې مقصد یې دی و. له داره په لړزا شو او په منډو منډو هغه نورو دوو ملګرو ته ورغی او هر څه یې ورته بیان کړل.هغوی ورته و ویل چې:

« له سره دې خوب لیدلی دی.» په دوهم ماښام دوهم نوکر جانو ته دماښام ډوډۍ راوړه. د بیرته تګ په وخت کې یې له جانو واوریدل چې:« که په رښتیا جادو ګروم نو دا یې دوهم و. دوهم نوکر هم په دې فکر شو چې مقصد یې دی دی او نور دوو ته یې حال بیان کړ. دریم نوکر ورته و ویل چې:« په ډاډ ویلی شم چې ته سم نه یې پوه شوی.» کله چې په دریم ماښام دریم نوکر جانو ته دماښام ډوډۍ ورووړه، جانو سوړ اوسیلی وایست او ویې ویل چې:« که رښتی جادو ګر وم، نو دایې دریم و.» دریم نوکر چې دا واورید، سختې ویرې واخیست، له داره په کونډو شو او جانو ته یې اقرار وکړ. جانو امر ورته وکړ چې:« دروازه دلته راشي او ګوته هم درسره راوړی، زه به تاسي پا چا ته ور ونه ښیم ! که چیرې مو بیا غلا ته زړه ښه کړ، نو باید پوه شی چې زه د جادو لوی استادیم.» کله چې پادشا ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

خبر ورسيد چې جانو په ازموينه کې بريالی شو، له تکاوۍ يې را وايست او غوښتل يې چې د دربار جادوګر يې وټاکي، خو جانو نه غوښتل، ځکه ډاريده چې که باد شا يې بيا له داسې ازموينې سره مخامخ کړي نو بيا به په داسې اسانۍ ترې خلاس نه شي. بادشا جانو ته ډيرې تحفې ورکړې او پری يې ښود چې لاړشي. جانو بيرته خپل کلي ته لاړ او هلته يې يو ښکلی کور، د کر او ځړ مځکې را ونيولې. کله به چې په کلي کې دکوچنيانو زړونه تنګ شول، ده په خپلو هنرونو اود جادو په نمايشونو خوشلول او خندول او دکلي اوسيدونکو به ويل چې:« دشکر ځای دی چې لوی ځان ښيونکی بيرته خپل کلي ته راغلی دی.»

Europa - Südwesteuropa – Spanien


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ